HUMAN RIGHTS WATCH

# "مونږ د نړۍ ژمنې له ځانه سره لرو"
## په افغانستان کې د میرمنو حقوق

## لنډیز

د طالبانو د رژیم د راپرځیدو څخه وروسته هرچا غوښتل چې راشي او د میرمنو د حقونو د خوندي ساتلو لپاره کار وکړي، او دا يې ویاړ ګڼلو چې ووایي چې د افغاني میرمنو سره مرسته کوي. ورو ورو دا له سترګو پناه شول. کیداي شي چې نړیوالې ټولنې په کابینه کې دوه یا درې میرمنې لیدلي وي او فکر يې کړئ وي چې دا بسیا کوي او اوس هغوي (میرمنې) خپل حقوق لري. مګر مونږ د کابینې له همغو څوکیو څخه د بسپنه کوونکو تر پامه پورې، هرڅه له لاسه ورکړل. میرمنې زمونږ د دولت یا نړیوالې ټولنې لپاره لومړیتوب نلري. مونږ له یاده وایستل شوؤ.

— شینکۍ کړوخیل، د پارلمان غړې، کابل، 14 جوزا 1388

د میرمنو مسألې له لید څخه بهر دي. مداخلې هسې د سینګار په شان دي، او په حقیقت کې دې ته کوم پام نه کوي چې افغانستان څومره يو دوديز هیواد دی. ریښتینې شمیرې (احصایې) بې لارې کیږي. په زرګونو ښوونکي وروزل شول، ښوونځي ودان شول، داڅه؟ آیا ښوونکي په حقیقت کې درس ورکولاي شي؟ آیا يوه کورنۍ به خپلې نجونې ښوونځي ته واستوي که چیرې هغوي په رښتیا سره د وظیفې د ترسره کولو ګټې ونه ویني؟ یا که چیرې تاسو د وظیفو د ترسره کولو په وړاندې خنډونه نه وي له منځه وړي لکه ګډ کاري ځایونه؟ د میرمنو پرمختګ د زړه سواندۍ د کچې څخه پیل او پاي ته رسیږي – دا په غوره کړنلارو باندې ژباړل کیږي.

— سوزانا پکلار — Susana Paklar، د میډیکا مونډیل دفتر پخوانۍ هیوادنۍ مسؤله، کابل، 13 ثو 1388

مونږ د شیعه د قانون په اړه د نړیوالې ټولنې د خبرو څخه خوښ شولو – په رښتیا چې هغوي ډیرې غوره خبرې لرلې، لکه چې هغوي د 2001م کال کې لرلې. مونږ د نړۍ ژمنې له ځانه سره لرو. مګر اوس هم مونږ انتظار باسو چې هغوي به نور څه وکړي.

— وژمه فروغ، عمل پلوې، ګلوبل رایټس، کابل، 25 حمل 1388

د امریکا متحده ایالاتو او د هغه متحدینو د 2001م د حملې څخه د میرمنو د حقونو څخه دفاع د القاعده د ریښو د رایستلو او طالبانو ته د ماتې ورکولو او د افغانستان بیارغونې د ژمنې د اړتیا څخه وروسته يو له مهمو دلایلو څخه

وګڼلو. د طالبانو د راپرځيدو او د کرزي د حکومت د جوړيدو څخه اووه کاله وروسته بياهم افغان ميرمنې د نړۍ په ترټولو بد وضعيت کې دي. د هغوي وضعيت په هره برخه کې غمونکی دی چې روغتيا، زده کړه، کار، د زورزياتي څخه خلاصون، د قانون په وړاندې مساوات او سياسي ونډه په کې شاملې دي.

سره لدې چې د ميرمنو د حقونو او د هغوي د ځواکمنولو ژمنې خپل اعظمي پولې ته رسيدلې او سره لدې چې له مخکښې په مليونونو د ميرمنو حقونو او پرمختيايي پروژو باندې لګول شوي، مګربياهم ميرمنې د دولت، يا نړيوالو بسپنه کوونکو اصلي لومړيتوب نه ؤ په ځاي ددې چې د ملکي امنيت او يا د قانون د حاکميت پراخې مفکورې ته پام وکړي، اصلي پام يې مسلحانه شخړو دی.

په افغانستان کې د ميرمنو د حقونو مخ په شا تلونکی وضعيت د 2009م کال په مارچ کې هغه مهال بيرته د پام وړ وګرځيد کله چې د اهل تشيع د شخصيه احوالو قانون د پارلمان لخوا تصويب او د ولسمشر لخوا توشيح شو چې د طالبانو دوله د ميرمنو ضد روحيی څخه ډک ؤ. په نوموړی قانون کې د شيعه مسلمانانو شخصيه چارې لکه طلاق، ميراث، او د واده کولو لپاره لږ ترلږه عمر شامل دی، مګر لکه څرنګه چې لاندې بيان شوی دی، نوموړی قانون د ميرمنو بنسټيزې آزادۍ په ټينګه سره محدودوي. د امريکا د متحده آيالاتو ولسمشر بارک اوباما نوموړی قانون وغندل او "مغاير" يې وبلل او همدارنګه د انګلستان، کاناډا، فرانسې او ناتو مشرانو په دغه غندنه ګې ځانونه ګډ وبلل او د ميرمنو حقونو ته د درناوي په اهميت باندې يې بيا ټينګار وکړ.

د ميرمنو د حقونو افغان پلويان راپورته شول او پدې اړه يې يوه بريالۍ مبارزه ترسره کړه ترڅو په نوموړي قانون کې د بدلون راوستلو په موخه په ولسمشر باندې فشار راولي، د نوموړو مبارزه کوونکو ملاتړ د امريکا، کاناډا او نورو ګڼ شمير آزادو اروپايي ملتونو لخوا کيدلو. مګر له بده مرغه د نوموړي قانون وروستۍ پايله د غوښتنو څخه په واټن کې شوه، ښکاره دليل يې دا دی چې ولسمشر کرزی په نژدې راتلونکو ټاکنو کې د شيعه مذهبو توندلارو د ملاتړ په فکر کې شو او غوښتل يې چې د هغوي ټاکنيز ملاتړ خوندي وساتي. د ولسمشرۍ د ټاکنو څخه يواځې يوه مياشت مخکښې ښاغلي کرزي د يو فرمان په صادرولو سره د نوموړي قانون يوه تعديل شوې نسخه صادره کړه، چې نوموړې نسخې بياهم داسې مادې لرلې چې په شيعه مسلمانو ميرمنو باندې ټينګ بنديزونه لګوي، ان تردې چې ميرمنې د خپل خاوند د اجازې څخه پرته د کور څخه بهر نشي وتلاي مګر په ځينې حالاتو کې چې قانوناً مناسب ښودل شوي وي. دغه قانون همدارنګه د ماشوم د پالنې حق پلرونو او نيکونو ته ورکړۍ پداسې حال کې چې ميندو او نياګانو ته يې نوموړی حق ندی ورکړۍ، همدارنګه خاوندانو ته اجازه ورکوي چې په ميرمنو باندې نفقه بنده کړي که چيرې هغوي د خاوندانو ازدواجي دندې نشي پوره کولاي، تردې چې د جنسي دندو پوره کول هم پکښې شامل دي.

د اهل تشيع د قانون پرسر دغه قهر او غصې د هغو لاسته راوړنو کمزورتيا او حساس والی په ګوته کوي کوم چې افغان ميرمنو، د بشرحقوقو پلويانو او منځلارو سياستوالو ترلاسه کړۍ دی. د افغانستان مسلط سياسي اختلاف د ايډيالوژيک پلوه د ډيرو حقونو په وړاندې همغسې له تاوتريخوالي څخه ډک پاتې دی، چې د طالبانو د رژيم د له منځه تلو وروسته ميرمنې ډيرې ورته هيله مندې وې، چې د نوموړو حقونو نمونې په لاندې ډول دي: د تګ راتګ (خوځيدو) آزادي، د کارکولو آزادي او د زده کړې حق. ډيری هغه ميرمنې چې ددغه راپور په جوړولو کې ورسته مصاحبې شوي، پدې اند وې چې د تيرو څو کلونو په اوږدو کې يې کوم ځاي چې د بدلون د راوستلو لپاره لرلو،

لاپسي تنګ شوی دی، دا ځکه چې دولت ترډېره بریده د سیاسي واک د لرلو په برخه کې په دودیزو ډلو باندې اتکاء کوي.

د اهل تشیع ددغه قانون د اختلاف په تعقیب، سره لدې چې نړۍ په ډېر زیر سره په افغانستان کې د میرمنو وضعیت ته کتنه کوي، ډیری خلک د هیواد دننه او بهر له دې څخه خبریږي چې څومره لږ او څومره کمزوري لاسته راوړنې موجودې دي او څومره ژورې ننګونې په مخ کې پرتې دي. لکه څرنګه چې د 2001-2005 پورې د میرمنو د حقونو وضعیت مثبت ؤ، مګر نوموړی وضعیت اوس په ډیرو برخو کې منفي دی. البته دا په ډیرو هغو میرمنو او سړیانو باندې تبصره نده کومو چې د غيو او وړو کارونو په ترسره کولو سره خپل ژوند له خطر سره مخ کړئ دی – لکه د نجونو په ښوونځیو کې تدریس کول او یا د یوې خپلواکې میرمنې په توګه د پارلمان د څوکی لپاره ځان کاندیدول. بلکه دا دودیزو مشرانو د ځواک انعکاس دی کوم چې د میرمنو د بنسټیزو حقونو څخه انکار کوي. د اهل تشیع قانون په کوم کې چې پخواني منځلاري کرزي د خپل دوهم ځل ټاکل کیدو لپاره معامله وکړه، ددغه وضعیت ترټولو کره بېلګه ده. د طالبانو او نورو جګړه مارو ډلو سره د معاملې په احتمال سره به توند لاري پدې وتوانیږي چې په راتلونکو کلونو کې خپل اغیز (نفوذ) زیات کړي.

پدغه راپور کې مونږ پنځه د اندیښنې وړ مسّلې څیړو:

- په هغو میرمنو باندی تیری چې په سیاسی ډګرکی فعال دی
- د میرمنو په وړاندې تاوتریخوالی
- د ماشوم او په زور (اجباري) واده کول
- ثانوی زده کړو ته د نجونو لاس رسی

مونږ دغه پنځه برخې یوازې د بېلګې په توګه انتخاب کړې، اګر چې مونږ پدې پوهیږو چې ډیرې نورې برخې هم دي چې باید ترڅیړنې اومطالعې لاندې ونیول شي لکه لومړنیو زده کړو ته لاس رسی، د میندو مړینی، د میرمنو د حقونو د مدافعینو په وړاندې تهدیدونه او کورني تاوتریخوالي. په اړوندو پنځوبرخو کې د دغو حقونو د روانو سرغړونو په څرګندولو سره، دغه راپور ښیي چې پدې وروستیو کلونو کې دولت د میرمنو او نجونو بنسټیزو حقونو ته په وده ورکولو کې پاتې راغلی دی او د بیرته پاتې کیدنې په ځینو برخو کې د مرستو لپاره د لومړیتوبونو په ټاکلو کې بسپنه کوونکې هم ګرم بولې.

**په عامه ژوند کې په میرمنو باندې یرغل**

په کندهار کې په 23 حمل 1388 کې د ستاره اڅکزۍ وژنه چې یوه سپینه وینا کوونکې میرمن، محلي وکیله او د بشر د حقونو مدافع وه، د ټولو هغو میرمنو لپاره یو بل اخطار ؤ کومې چې په عام ژوند کې فعالې دي، یعنې د ټولو هغو میرمنو لپاره چې په پارلمان یا ولایتي کچه وکیلانې دي، د بشر د حقونو مدافع، ښوونکې، روغتیایي کارکوونکې او یا ژورنالستانې دي. اڅکزۍ یوه سپینه وینا کوونکې میرمن، محلي وکیله او د بشر د حقونو مدافع وه. نوموړې ته له مرګ څخه څو اونۍ یا میاشتې مخکښې مرګوني ګواښونه کیدل، ان تردې چې د ګواښونو په اړه یې دولتي چاراواکو، ملګرو او همکارانو ته خبر ورکړئ ؤ. طالبانو د هغې د مرګ مسؤلیت ومانه مګر د هغې ملګرو بیاهم پدې اړه پوښتنې وکړې چې ګواکې کې دا به یوه سیاسي وژنه وي. هیڅو ک د هغې د مرګ په تړاؤ ترعدلي تعقیب لاندې ونه نیول شول.

هرځلې چې یوه میرمن په عامه ژوند کې وژل کیږي، د هغې مرګ یو زیاتونکی اغېز لري:
میرمنې به دهغې په سیمه یا مسلک کې دوه ځلې د خپلو فعالیتونو په اړه فکر وکړي. یوه ښځینه پولیسه چې ددې راپور لپاره ورسره مصاحبه شوې وویل چې، د مقاماتو د محدود ملاتړ د ترلاسه کولو څخه وروسته د ټوپک مارو د دوه ډلو د تهدید څخه پټه اوسیده. هغه پدې ویره کې ده چې انجام به یې د ملالۍ کاکړ په شان وي – کاکړ د کندهار د پولیسو پخوانی افسره وه چې د ۲۰۰۸ کال د سپتامبر په میاشت کې ووژل شوه او د وژنې په تړاؤ یې هیڅ‌ا ته سزا ورنکول شوه. په تکراري ډول سره د دې ډول مجرمینو په محاکمه کولو کې د دولت پاتې راتلل د میرمنو په ویره کې لاډیروالی راولي.

ویره داده چې هغه لاسته راوړنې چې میرمنو د خپل استازیتوب پرمهال په عامه ژوند کې رامنځته کړي، له منځه به ولاړ شي. ترټولو مهمه لاسته راوړنه په ولسي جرګه کې د څلورمی برخې څخه زیات د ښځینه وکیلانو شتون دی. مګر چیرې چې سهمیه تعین شوې نه وه – لکه د کابینې د څوکیو شمیر یا معینان یا د ملکي خدمتونو څوکی، په نوموړو ځایونو کې دغه پرمختګونه له مخکښې څخه کم ؤ. لکه چې په کابینه کې د میرمنو په شمیر کې کمښت راغلی همدارنګه په تیرو څو کلونو کې په ملکي خدمتونو کې د میرمنو په شمیر کې خورا کمښت راغلی دی. په کابینه کې یوائې یوه میرمن وزیره ده چې د ښځو د چارو د وزارت څخه استازیتوب کوي. د پارلمان ټولې ښځینه غړې چې ددې راپور لپاره ورسره مصاحبې ترسره شوي، ځینې تهدیدونه او تاوتریخوالي یې تجربه کړي دي. ډیرو دا احساس لرلو چې دولت یا نشي کولای او یا نه غواړي چې هغوي خوندي وساتي. ډیر وخت کیږي چې د میرمنو په وړاندې یرغل ادامه لري او چا ته سزا هم نه ورکول کیږي، د ویرې او د سزا څخه د معافیت دود د هغومیرمنو په وړاندې ستر خنډ جوړوي کومې چې عامه ژوند ته ورننوځي.

د 2009 کال د ولایتي شورا ګانو او پارلماني ټاکنو په مهال د ښځینه کاندیدانو او رایې ورکوونکو امنیت د بهیر د یوې بېلې مسألې په توګه په پام کې نیول شوی ؤ – دا یوائې د پارلمان د ښځینه غړو او د فعالو میرمنو د وروستیو هڅو په پایله کې رامنځته شوی ؤ – چې د خپلو موټرو او مالي ملاتړ په وړاندې کولو سره یې ترسره کول – چې پدې سره د نوماندی په وروستیو ورځو کې ګڼ شمیر میرمنې د خپل نوم ښودلو ته وهڅول شوې. په ځینې ځایونو لکه کندهار، دنوماندو میرمنو شمېر د هغه شمیر په پرتله چې د قانون لخوا ورته تعین شوی ؤ، خورا کم ؤ، ددې کمښت اصلی سبب د امنیت نشتوالی په ګوته کیږي. په کندهار کې ټولو نوماندو میرمنو د ولایت څخه بهر کمپاین ترسره کړ. میرمنو ته د پوره امنیت په تأمین کې پاتې راتلو او په ترټولو وروستی مرحله کې د ښځینه تلاشي کوونکو برابرولو دې ته لار هواره کړه چې د هیواد په جنوب او جنوب ختیځو ولایتونو کې ټاکنیزې درغلۍ رامنځته شوې.

که چیرې په دولت او ټولنه کې یوداسي دریځ موجود نه وي چې د میرمنو د حقونو غوښتنه یکښې وشي، نو په افغانستان کې به پرمختګ له خنډ سره مخ شي. اوسنی سیاسي نظام په فساد او خپلولۍ کې ډوب دی. ټاکنې د اصولو او کړنلارو پراساس نه ترسره کیږي بلکه په معاملو او هوکړو سره ګټل کیږي. واک څومره چې په عامه نهادونو څرخیږي په همغه کچه د ملاتړو په اړیکو باندې هم جریان لري. دا یو داسې نظام دی چې د میرمنو پرمخ تړل شوی دی. لکه څرنګه چې د پارلمان یوې ښځینه غړې وویل:

مونږ قوماندانانې نه یو، مونږ ټوپک نلرو، مونږ له هره لوري چې وي د پیسو بورۍ نلرو، نو ځکه مونږ هغه څوک نه یو چې د ګټو خوندي ساتل مو هغوي وغواړي[1].

**د میرمنو په وړاندې تاوتریخوالی**

په افغانستان کې د میرمنو په وړاندې تاوتریخوالی یوه عادي خبره ده. په 2007م کال کې په ملي کچه په 4700 میرمنو یوه سروې ترسره شوه، د نوموړې سروې پایلې وښوده چې 87.2 فیصده میرمنې د خپل ټول ژوند په اوږدو کې د یو ډول جسمي، جنسي یا رواني تاوتریخوالي او یا د زور واده ښکار کیږي. [2]د تاوتریخوالي په ډولونو کې د زور زنا، جسمي زورزیاتی، جبري واده او د ناموس وژنې شاملې دي. ډیری وخت د هغو کسانو نظرونه چې په دولت او پولیسو کې دي، د میرمنو څخه د تنفر مفکورې منعکسوي، چې له دود او رواجونو څخه سرچینه اخلي – مګر په زیاته کچه د نوي افغان نسل لخوا رد کیږي – ځکه چې د میرمنو په وړاندې ځینې تاوتریخوالي په کې نغښتي وي. لکه څرنګه چې په افغانستان کې د بشر د حقوقو د خپلواک کمیسیون د ملاتړ او پرمختګ کمشنره ډاکټر ثریا صبحرنګ داسې راته وویل "پولیس او قاضیان د میرمنو په وړاندې تاوتریخوالي ته د یو مشروع عمل په سترګه ګوري، همدا وجه ده چې قضیې نه تعقیبوي".[3]

په اکثریت قضیو کې به میرمنې د کومک په لټه کې نشي ځکه چې هغوي پولیسو د سوء استفادې یا فساد څخه ویره لري، یا د زورزیاتي د مرتکب غچ اخیستنې څخه ویریږي. د کورنې تاوتریخوالي په قضیو کې د میرمنو بیرته پاتې ټولنیز وضعیت او ټولنیز تور ددې خنډ ګرځي چې د خپلو کورنیو د تاوتریخوالي په وړاندې محاکمو ته مخه کړي. ان تردې چې هغه میرمنې چې د خپل حق لپاره پولیسو یا محاکمو ته مراجعه کوي، ورته پکار دی چې په لومړي سر کې هغه عمومي عار ختم کړي چې اوس هم په میرمنو پورې تړلی چې هغه د نارینه د اجازې څخه پرته د کور څخه بهر وتل دي، یعني په لومړي پړاو کې میرمن نشي کولای چې د نارینه د اجازې څخه پرته د کور څخه بهر ووځي. په کال 2008م کې هغه سروې چې د میرمنو او ماشومانود حقوقي څیړنې د بنیاد لخوا ترسره شوه، ښیي چې یواځې 15فیصده خلک پدې اند ؤ چې هغه میرمنې چې د تاوتریخوالي په پایله کې معیوبه شي، کولای شي چې پولیسو ته مراجعه وکړي. هغه میرمنې چې د کومک غوښتنه کوي، ډیری یې د پاملرنې له نشتوالي سره لاس او ګریوان وي دا په هغه صورت کې که چیرې تاوتریخوالی او سوء استفاده موجوده نه وي.

همدا اوس د زور زنا د افغانستان د قوانینو له مخې یو جرم نه ګڼل کیږي. د زور زنا کوونکی یواځې د خپل عمل په مقابل کې چې زنا ده مجازات کیږي، چې ډیری وخت د میرمنو د مجازات سبب هم ګرځي یعني میرمنې هم د زنا د عمل په مقابل کې مجازطت کیږي. د مدني ټولنې د ډلو او د میرمنو د حقونو د پلویانو د یوې سترې لاسته راوړنې لپاره ولسمشر د میرمنود قانون په وړاندې د تاوتریخوالي له منځه وړلو فرمان صادر کړ چې د زور زنا (تجاوز) یې پکښې جرم په ګوته کړ. د لیکنې پرمهال قانون د پارلمان لخوآه په پام کې نیول کیږي، یعنې پارلمان د هغو قوانینو د بیاکتنې حق لري کوم چې د ولسمشر په فرمان سره توشیح کیږي. پکار دی چې قانون ځواکمن او

---

[1] د بشر د حقوقو د څار سازمان د پارلمان له وکیلې شینکۍ کروخیل سره په کابل کې مرکه کړې، جون، 4 ، 2009

[2] ګلوبل رایټس سازمان، "د تاوتریخوالي سره اوسیدل: په افغانستان کې په کورنۍ پورې اړوند سوء استفادې باندې یو ملي راپور،" مارچ 2008، په ویبپاڼه کې پته: www.globalrights.org/site/DocServer/final_DVR_JUNE_16.pdf?docID=9803 (لاس رسی 11 نوامبر 2009) p. 1

[3] د بشر د حقوقو د څار سازمان د پارلمان له وکیلې ډاکټر سریا صبحرنګ سره په کابل کې مرکه وکړه، مئ، 3، 2009

روښانه شي او باید د پارلمان لخوا کمزوری نشي. سره لدې چې په نوموړي قانون کې ډیرې خلاګانی موجودې دي مګر بیاهم دا د میرمنو د حقونو د پلویانو لپاره یوه ستره لاسته راوړنه وه، ځکه چې هغوي نوموړي قانون وهڅولو، او که چیرې نوموړی قانون ته د عمل جامه ورواغوستل شي نو بیا به دا په دولت او ولس کې د جنسیت پورې اړوند تاوتریخوالي سره د معاملې کولو د بنسټ یوه ډیره مهمه ډبره وي.

په دغه راپور کې مونږ د زور زنا (جنسي تجاوز) درې قضیې په ګوته کوؤ په کومو کې چې د مرتکبینو ځواک او نفوذ د هغوي په خلاصون کې ورسره مرسته کړې ده او د عدالت د منګولو څخه یې خلاص کړي دي، ځینې وخت د دولت په لوړ فرمان سره. د ولسمشری د بخښنې ترشا هغه مهال سیاسي اهداف پراته ؤ کله چې د 2008م کال په اوړي کې دوه ډلیز متجاوز زناکاران په 11 کاله زندان باندې محکوم شوي ؤ مګر یواځې دوه کاله د زندان دوره یې تیره کړه. د 2009 کال د مئ په میاشت کې د هغې میرمنې خاوند دګولیو ښکار شو چې په میرمن باندې دې یې جنسي تیری شوی ؤ او بیا بالاخره هغه څوک ونیول شو او په زندان کې واچول شو کوم چې د همدغه جنسي تجاوز امر کړئ ؤ. په دوهمه قضیه کې چې د پارلمان د یوتن غړي ځوي په یوه 13 کلنه انجلۍ باندې جنسي تجاوز وکړ او بیا د نوموړي متجاوز ځواکمنې کورنۍ د هغه د خلاصون لپاره ډیرې هڅې وکړي، مګر نوموړې هڅې تردې دمه ناکامې دي. هغوي د مجني علیه په کورنۍ باندې فشار واچولو ترڅو نوموړې شخړه د کلیوالو جرګو له لیارې حل کړي ان تردې چې د متجاوز کورنۍ دې ته هم چمتو شوه چې خپله د کورنۍ یوه انجلۍ د مجني علیه کورنۍ ته ورکړي (چې په پښتو کې یې بد بولي یعني په بدو کې د نجلۍ ورکول). په دریمه قضیه کې یوه پیغله انجلۍ د جنسي تجاوز ښکار شوه او د تجاوز څخه وروسته بیا فحشا ته مجبوره کړل شوې. په همغه وخت کې د نوموړي د جرم په بدل کې هیچا ته سزا ورنکول شوه او نه څوک ترعدلي تعقیب لاندې ونیول شول کیداي شي اصلي وجه یې دا وه چې د غچ اخیستنې څخه ویریدلي وي. همدارنګه د پارلمان یوې ښځینه غړې مونږ ته داسې وویل:

> ددولت له خوا د جنسي تیري کوونکو لپاره معافیت موجود دی، ځکه چې دولت نه غواړي چې د هغوي د ملاتړو متحدین د قانون په پلي کولو سره کمزوري کړي. نو له همدې کبله د میرمنو حقوق ترټولو لومړی شی دی چې پاملرنې ته اړتیا لري. سیاست هرڅه دی.[4]

**ماشوم او اجباري واده**

له خوا د ماشومانو ودونو په ګوتو شوي دي (چې عمرونه یې د ۱۶ UNIFEMپه افغانستان کې ۵۷ فیصده ودونه د دا کړنې د ډیرو هغو ستونزو کلنۍ د قانوني عمر څخه ټیټ دی)، او ۷۰ تر ۸۰ فیصده پورې د زور ودونه دي.[5] بنسټ جوړوي له کومو سره چې میرمنې او نجونې لاس او ګریوان دي، چې د کورني تاوتریخوالي او د زور/ماشوم د واده ترمنځ اړیکې هم پکښې شاملې دي. د وخت څخه مخکښې واده ډیری وخت د ښونځیو څخه د نجونو د خارجیدو او د وخت څخه مخکښې د ماشوم د زیږیدنې سبب ګرځي، چې بیا معمولاً د روغتیایي ستونزو او د میندو د مړینې لامل کیږي.

---

[4] د بشر د حقوقو د څار اداري په کابل کې د پارلمان د وکیلې فوزیه کوفي سره د ۲۰۰۹ کال د جون د میاشتې په ۷ نیټه مصاحبه وکړه.

[5] په افغانستان کې د UNIFEM اداره، "په افغانستان کې د میرمنو وضعیت" فکټ شیټ ۲۰۰۸، http://afghanistan.unifem.org/media/pubs/08/factsheet.html (accessed November 4, 2009).

په کليوالی سيمو کې د خلکو عام نظر دادی چې نجوني بايد بلوغ ته درسيدو څخه سمدلاسه وروسته واده وکړي. د واده مصرف او ټيټو اقتصادي حالاتو د ماشومانو د ودونو د عموميت کچه لوړه کړې ده. نجوني او هلکان ډيری وخت د خپلو ودونو د عمر او د ژوند د شريک په انتخابولو کې ډير لږ واک لري، چې پدې لړ کې ترټولو لږ اختيار نجونو ته ورکول کيږي او د هغوي د زده کړو جريان ته هم لږ اهميت ورکول کيږي. د زور د ودونو په وړاندې د کورنيو او ټولنو هڅې ډيری وخت ستونزمن کار وي، ان تردې چې د افتخاري وژنو هم ورته حالت دی.

اګر چې د ميرمنو د قانون په وړاندې د تاوتريخوالي د له منځه وړل ځيني دا ډول ستونزې حل کړي دي، چې د ماشوم واده يې جرم ګڼلی، په افغانستان کې د ميرمنو د حقونو ملاتړ سازمانونه پدې اند دي چې په نوموړي قانون کې د بدلون راوستل کيداي شي چې يواځې معتدلو بدلونونو ته لار هواره کړي. په نظرونو کې بدلون د ډير اهميت لرونکی دی مګر دا کار د دولتي چارواکو، قومي مشرانو او نورو بانفوذه اشخاصو اوږدمهالو ژمنو ته اړتيا لري، چې نادولتي سازمانونه او هغه بسپنه کوونکي چې د مدني ټولنو د سازمانونو څخه ملاتړ کوي هم پدې کار کې شامل دي.

**عدالت ته لاس رسی**

يوه بله پرمخ کې پرته ستونزه د ميرمنو لاس رسی عدالت ته دی. ژور دوديز اختلافونه او تبعيضونه د ميرمنو پر مخ خنډ ګرځي ترڅو هغوي پوليسو او محاکمو ته لاس رسی ولري ځکه چې هغوي له دې تور څخه ويريږي چې د بدو ښځو په قطار کې به راشي. ميرمنې ډيری وخت د پوليسو په مرکزونو او محاکمو کې د هغو چارواکو د سزا ښکار ګرځي کوم چې د قانون څخه پوهاوی نلري او د دوديز قانون پربنسټ پريکړې کوي، کوم چې د ميرمنو په پاک لمنې او عزت باندې ډير ټينګار کوي. ډيری ميرمنې چې د زندان شپې سبا کوي، لامل يې معمولاً زنا يا د کور څخه تيښته په ګوته کيږي – دا هغه څه دي چې د افغانستان په قانون او شريعت کې جرم نه ګڼل کيږي مګر د دود او رواج له نظره چې ميرمنې د پلرونو او خاوندانو ملکيت ګڼي، جرم په ګوته کيږي. يوه ترټولو غوره تګلاره (پاليسي) د پوليسو په مرکزونو کې د جندر د رياست (د کورنيو د غبرګون برخه) رامنځته کول دي. مګر لکه څرنګه چې پدې راپورې کې يې وضاحت شوی، د دې ډول کارکوونکو د عملي اجراأتو ستونزې ترټولو ستره ستونزه ده، چې د نوموړو کارکوونکو نه بس کيدونکي روزنه، د کارکوونکو کمښت او سهولتونه پکښې شامل دي.

**ثانوي زده کړو ته د نجونو لاس رسی**

وروسته له هغه چې د نجونو ښوونځي د طالبانو له لوري په پوره ډول له منځه تللي ؤ، دا د حيرانتيا وړ خبره نده چې په افغانستان کې د نړيوالو بسپنه کوونکو هڅو په سمبوليک ډول د نجونو ښوونځي او زده کړې شوې. د مهمو لاسته راوړنو سره سره – سرکالي شپږ مليونه زده کوونکي په لومړنيو او ثانوي ښوونځيو کې شامل شوي دي – د جنسيت ستر اختلافات په خپل ځاي پاتې دي. ګڼ شمير نجونې اوس هم په لومړنيو ښوونځيو کې نه شامليږي، او يو ناهيلی کوونکی ۱۱ فيصده د ثانوي ښوونځيو عمر لرونکی نجونې د ۷-۹ ټولګيو کې زده کړې کوي. يواځې ۴ فيصده له ۱۰-۱۲ پورې ټولګيو کې شاملې دي. پداسې حال کې چې د نجونو زده کوونکو شمير د ثانوي زده کړو په مهال په ډراماتيک ډول سره رالويږي. دا کمښت ترډيره په نجونو باندې اغيز کوي.

دغه غمونکی شمير له ډيرو خواؤ د نجونو په راتلونکي باندې بد اغيز لري – پداسې حال کې چې په ښوونځيو کې د نجونو شامليدل او هلته پاتې کيدل به د ميرمنو رهبرانو د راتلونکې نسل په زياتيدو او د ميندو د مړګونو په کميدو باندې ډير اغيز ولري. د نجونو زده کړې ډيری وخت د نابالغو ماشومانو د ودونو، له وخت څخه مخکښې

زیږیدنو او د امیدواری په مهال د مرګونو څخه ترډیره مخنیوی کوي. همدارنګه د میرمنو زده کړې د ماشومانو د ښې تغذیې سره هم اړیکې لري. د افغانستان پرمختګ د ښوونکو د کمښت، د روغتیایي شاخصونو د پرمختګ او د تلپاتې ژوند د ښه والي په برخه کې د ښځینه ښوونکو د روزلو، د روغتیایي پاملرنه کوونکو، متخصصو کارکوونکو او رهبرانو په برابرولو پورې تړاؤ لري.

د بشر د حقوقو د څار د اداری څیړنه ښیي چې د نجونو د ښوونځیو، امنیت، ترانسپورت، ښځینه ښوونکو او د دولت د پلان جوړونې نشتوالی سبب ګرځیدلي چې نجونې زده کړې ته لاس رسی نلري. ملي سروې ګانو د هغو لاسته راوړنو ملاتړ کړئ چې ډیری افغاني کورنی دا غوښتنه لري چې لونې یې زده کړې وکړي، مګر هغوي باید لومړی ددغو زده کړو اسباب په عملي او خوندي توګه سره ولري.

په سهیلي او ختیځ افغانستان کې ټوله ایزه بې امني او په ښوونځیو، ښوونکو او زده کوونکو باندې برغل اساسي خنډونه دي چې لا اوس هم په خپل ځاي پاتې دي چې بې اندازه اغیز یې په نجونو باندې پریوتې دی. د معارف د وزارت د معلوماتو سره سم د ۱۳۸۸ کال د پنځو لومړیو میاشتو په اوږدو کې په ۱۰۲ ښوونځیو باندې د وسلوالو لخوا د چاودیدونکو توکوپه مټ بریدونه شوي او ۱۰۵ ښوونکي او زده کوونکي د وسلوالو مخالفینو لخوا وژل شوي دي (اګرچې دا نده روښانه چې دا مخ پرزیاتیدو په نښه شوې وژنې وې). اګرچې دغې حملې په دواړه نارینه او ښحینه زده کونکو او ښوونکو باندې ترسره شوي دي. د ۲۰۰۹ م کال د زهرو حملې په مستقیم ډول نجونې په نښه کړې، پداسې حال کې چې سږ کال ۲۰۰ زده کوونکي د زهرو ښکار شوې چې ۱۹۶ یې نجونې نجونې او میرمنې وې.[6]

د هیواد په نورو برخو کې ترټولو نژدې ښوونځي ته واټن عمده خنډ دی. د ثانوي ښوونځیو په ویش کې ترډیره بریده د ولایاتو مرکزونو ته پام شوی دی یعنې ډیری ثانوي ښوونځي د ولایاتو په مرکزونو کې موجود دي. د ښوونځیو دغه کمښت په لوړه کچه په نجونو باندې اغیز کوي – د نجونو په پرتله د هلکانو ښوونځي ډیر دي او ډیری وخت د ښونځیو لیرې واټن او امنیتي ستونزې د نجونو لپاره سترې ننګونې رامنځته کوي. د بشرد حقوقو د څار سازمان د داسې نجونو سره مصاحبې کړي چې ښوونځیو ته د تګ لپآره نژدې شپږ ساعته هره ورځ پیاده مزل کوي. پداسې حال کې چې کورنی ښوونځي ته د هر ماشوم د لیږلو په اړه اندیښنه لري، د هغوي ځانګړي اندیښنې د نویو پیغلو نجونو په اړه وي چې په هغوي باندې د احتمالي جنسي برید او تهدید څخه ویره لري، همدا وجه ده چې کورنی ښونځیو ته د نویو پیغلو نجونو لیږلو ته میلان نلري. یواځې ۱۹ فیصده ښوونځي د نجونو د ښوونځیو په نامه جوړ شوي دي، پداسې حال کې چې د ټولو تعلیمي سیمو په ۲۹ فیصده برخو کې د نجونو ښوونځي شتون نلري[7].

* * *

---

[6] معلومات د معارف د وزارت لخوا په لیکلي ډول سره د بشر د حقوقو د څار د سازماان په واک کې ورکول شوي دي، سپتامبر۱۵، ۲۰۰۹ کال.

[7] په افغانستان کې د یونیفیم اداره، "په افغانستان کې د میرمنو وضعیت،" فکټ شیټ، ۲۰۰۸
http://afghanistan.unifem.org/media/pubs/08/factsheet.html (accessed November 12, 2009).

د ميرمنو ستونزه نيغ په نيغه د افغانستان د سياسي سيستم د ستونزې سره تړاؤ لري. پدې کې د دولت مخ پرزياتيدو کمزورتيا شامله ده، چې هغه په بنسټ پالو او سنتي خلکو باندې له اندازې زيات تکيه کول دي ترڅو سياسي ملاتړ خوندي وساتي او د طالبانو په وړاندې جګړه وکړي، او بل د ميرمنو د حقونو د مشرتابه د کمزوري کيدونکو ژمنو موجوديت دی. په وزارتخانو کې پراخې درغلي، چيرې چې ځوکی په ځاي ددې چې د عامه خدمتونو لپاره وکارول شي، د شخصي څواکمنتياؤ لپاره کارول کيږي، همدارنګه د ميرمنو د حقونو د حفاظتي پاليسيو په ګډون په ټولو برخو کې د اصلاحاتو هڅې د هغو کسانو لپاره د اجندا سره سم پرمخ نه ځي کوم چې په ځواک باندې دي. دولتي مامورين ډيری وخت د ميرمنو د حقونو د ځواکمنولو او پرمختګ په غوښتنو کې ډيرې لاسته راوړنې ندي لرلي، په ځانګړي ډول چې ددې کار په کولو سره د واکمنو د مقاومت څخه ويره لري. د اجراييه برخې نفوذ او د سياسي ګوندونو نشتوالی ددې سبب ګرځي چې د ولکې سيستم د هغه سيستم څخه ځواکمن کړي چيرې چې د ميرمنو د حقونو په څير ارزښتونه پکښې وده کوي.

دا د افغان ميرمنو او نجونو لپاره يوه ډيره مهمه شيبه ده. خرابيدونکې امنيتي وضعيت ميرمنې په خپل عام ژوند کې، ترزياتيدونکي فشار لاندې راولي. د اهل تشيع د شخصيه احوالو د قانون تصويب چې د 2009 کال د مارچ په مياشت کې ترسره شو، په څرګند ډول سره دا وښوده چې د طالبانو د رژيم د ړنګيدو څخه وروسته د ميرمنو د آزادۍ په وړاندې جګړه څومره سخته ده. د ميرمنو په وړاندې تاوتريخوالی يوه عامه خبره ده او عدالت ته د ميرمنو لاس رسی ډير محدود دی. د دولت او د هغه د عمده ملاتړو په اجندا باندې د بنسټپالو ځينې ډلې د طالبانو د ځينو عناصرو سره د پخلاينې په اړه ملاتړ ترلاسه کوي، نو دا کولاي شي چې د ميرمنو د حقوقو چاپيريال نور هم ستونزمن کړي.

په عين وخت کې ځينې لاسته راوړنې موجودې دي. لکه څرنګه چې مخکښې ورته اشاره وشوه د ميرمنو په وړاندې د تاوتريخوالي د له منځه وړلو قانون د ميرمنو د پلويانو او چارواکو لخوا طرح کړل شو، چې دا د ميرمنو د حقونو د ډيرو پلويانو لپاره د وياړ خبره ده. د "پنځه مليونه ميرمنو دکمپاين" جوړول، ددې لپاره چې ميرمنې وهڅوي ترڅو خپل ځانونه کانديد کړي او د 2009 م کال په ټاکنو کې رايې ورکړي، يو مثبت پرمختګ بلل کيږي. دا يو حقيقت دی چې ميرمنې پداسې سيمو کې د خپل دود څخه دفاع کوي چې په نوموړو سيمو کې اوس هم ددولت په وړاندې مقاومت موجود دی او هره ورځ ظلم ليدل کيږي – چې غوره مثالونه يې د اهل تشيع د قانون په وړاندې د ميرمنو لاريون او د کندهار ولايت په زړه کې د زرګونو ميرمنو په ګډه دعا دي. د ميرمنو د حقونو د ډيرو پلويانو او د بشر د حقونو د مدافعينو زړور کارونه د افغان ميرمنو او نجونو د راتلونکې د ښه والي لپاره ډير هڅونکی ګام بلل کيږي. د هغوي کار او امنيت بايد په ډيره ټينګه سره خوندي وساتل شي. د افغان دولت او د هغه کليدي ملاتړي لکه امريکا، برتانيا، اروپايي اتحاديه او ناتو بايد د ميرمنو د حقونو د خوندي ساتلو د لومړيتوب په برخه کې پرمختګ وکړي، نه داسې پرمختګ چې د لنډ وخت لپاره د سياسي معاملو لپاره تبادله شي.

**کليدي سپارښتنې**

- دولت او بسپنه کوونکي بايد د ميرمنو د حقونو پرمختګ او خوندي توب ته د هيواد د بيارغونې او د سياسي، اقتصادي او امنيتي استراتيژيو په توګه لومړيتوب ورکړي.
- پارلمان بايد د ميرمنو د قانون په وړاندې د موجود تاوتريخوالی په له منځه وړلو کې هڅې وکړي ترڅو دا ډاډ ترلاسه شي چې نوموړی قانون د نړيوالو معيارونو سره برابر او په روښانه او څرګند ډول سره طرح شوی دی.

- دولت او ورسره ملاتړي بسپنه کوونکي باید لوړه کچه د عامه پوهاوي کمپاین ترسره کړي او خلک پدې پوه کړي چې جنسي تجاوز د قانون د پلي کوونکو ادارو، قاضیانو، پارلمان، دولتي مامورینو او افغان ولس لخوا یو جرم پیژندل شوی دی. ددغه کمپاین څخه باید هدف دا هم وي چې هغه نظر چې د جنسي تجاوز قربانیان یې د خپلو ځانونو لپاره تور داغ بولي باید کمښت پکې راشي.
- دولت باید د ودونو ثبت او راجستر عام او اجباري کړي.
- ولسمشر باید ټولو هغو میرمنو ته د معذرت او جبران یو وړاندیز خپور کړي کومې چې په غیرقانوني توګه سره د "کور څخه د تیښتې" په جرم باندې زنداني شوي وي.
- دولت د بسپنه کوونکو په ملاتړ باید نجونو د ثانوي ښوونځیو په جغرافیایي پوښښ کې ډیروالی راولي، د هلکانو ځینې ښوونځې د نجونو سره په ګډو ښوونځیو واړوي، د سهار او ماسپښین دورې جوړې کړي او موجودو لومړنیو ښوونځیو ته د ثانوي ښوونځیو ټولګي ورزیات کړي او ډاډ ترلاسه کړي چې د ښځینه ښوونکو په ګمارلو او روزلو کې ډیروالی راشي.
- دولت او ورسره ملګري ملتونه او بسپنه کوونکي باید د 2010 کال د راتلونکو پارلماني ټاکنو لپاره د ښځینه کاندیدانو او رایي ورکوونکو لپاره د امنیت برابرولو ته لومړیتوب ورکړي.
- نړیوال بسپنه کووني او ملګري ملتونه د ښځو د چارو د وزارت سره یوځای باید په افغانستان کې د ټولو
- لګښتونو په جنسیت پورې اړوند یو عمومي تفتیش ترسره کړي.

**تفصیلي سپارښتنې**

په سیاسی ژوند کې په میرمنو باندې حملې (یرغل)

د بشر د حقوقو د څار اداره په افغان دولت باندې ټینګار کوي چې:

- د میرمنو په سیاسی ژوند باندې یرغل په جوته توګه وغندي.
- ډاډ ترلاسه کړي چې د میرمنو د سیاسی ژوند د خوف، تاوتریخوالي او تهدید ټولې قضیې ثبتیږي، نظارت ورڅخه کیږي، پلټنې یې کیږي او د کورنیو چارو د وزارت او یا د لویې څارنوالی د چارواکو لخوا ترعدلي تعقیب لاندې نیول کیږي.
- په سیاسی ژوند کې د میرمنو د وژل کیدو څخه پلټنو ته لومړیتوب ورکړي او د مخنیوي لارې چارې یې ولټول شي.
- درغلی د ولایت او ولسوالی په کچه چارواکو لخوا د امنیت په راوستلو سره له منځه یوسي. ډاډ ترلاسه کړي چې د امنیت تخصیص د اړتیا سره سم دی.
- ډاډ ترلاسه کول چې میرمنې د مهم رول لوبولو ته هڅول کیږي، لکه د وزیر او معین څوکی ترلاسه کولو ته او په دولتي دندو باندې د میرمنو د نه ګمارنې څخه د مخنیوي مسأله هوارول.
- ډاډ ترلاسه کول چې د ښځینه کاندیدانو او رایي ورکوونکو د امنیت اړوند مسألې د 2010م کال د پارلماني ټاکنو د پیل څخه مخکښې حل کیږي.
- ډاډ ترلاسه کړي چې د ولسمشر په دفتر کې د جنډر (جنسیت) اړوند چارو یوه مشورتي څوکی (پوست) موجوده ده، چې نوموړی مشاور به د ګڼ شمیر مدني ټولنو د عاملینو سره میاشتنی ناستې لري، او مشاور به ددې ترڅنګ دنده لري چې د ولسمشر د ټولو مشاورینو د دندو په لایحو کې به د میرمنو د حقونو خوندي ساتلو ته وده ورکوي.

د بشر د حقوقو د څار اداره د کورنيو چارو وزارت، د ملي امنيت رياست او لوي څارنوالي دفتر دې ته هڅوي چې:

- د ميرمنو په سياسی ژوند کې د تاوتريخوالي او تهديد په وړاندې د غبرګونونو بياکتنه وکړي، او په عامه ژوند کې د ميرمنو سره کار وکړي ترڅو هغه اصلاحات تطبيق او پلان کړي کوم چې ددولت غبرګون ددې ډول تهديدونو او تاوتريخوالي په وړاندې نور هم ځواکمنوي.
- د ميرمنو په عامه ژوند باندې د هرډول تهديدونو او يرغل پلټنې وکړي.
- دا ډاډ ترلاسه کړي چې د هغو ميرمنو لپاره امنيت برابر شوی کومې چې د تهديد لاندې دي. دا ډاډ هم ترلاسه کول چې له امنيتي منابعو څخه سوء استفاده نه کيږي او امنيت د اړتيا سره برابريږي.

د بشر د حقوقو د څار اداره نړيوال بسپنه کوونکي هڅوي چې:

- د هغو اوږدمهالو ميکانيزمونو څخه ملاتړ ته ادامه ورکړي کوم چې ميرمنو ته په سياسی ژوند کې خونديتوب ورکوي.
- د ميرمنو په لوړو دندو باندې د ګمارلو په برخه کې ددولت د پاتي راتلو په اړه په ډاګه څرګندونې وکړي، چې په نوموړو دندو کې د وزارت څوکۍ هم شاملې دي.
- ډاډ ترلاسه کول چې د ښځينه کانديدانو او رايې ورکوونکو امنيت د 2010م کال د پارلماني ټاکنو د پيل څخه مخکښې تأمين کړي.
- د پروګرامونو لپاره اوږدمهالی ملاتړ برابر کړي ترڅو ميرمنې په سياسی ژوند کې داخلې شي او هلته پکښې پاتې شي، نوموړي پروګرامونه عبارت دي ، د ظرفيت د لوړولو پروګرامونو او د محلي شبکو سره مرستې کولو څخه.

**جنسي تيری**

د بشر د حقوقو د څار اداره افغان دولت باندې څخه غواړی چې:

- ډاډ ترلاسه کړي چې د ميرمنو په وړاندې د تاوتريخوالي، د زور ودونو او د ماشومانو د ودونو په برخه کې موجود قوانين پلي کيږي.
- ډاډ ترلاسه کړي چې هيڅ يو مجرم بايد د کوم ډول اړيکي، ټولنيز وضعيت يا کوم بل ډګر په لرلو سره د جزا څخه معافيت ترلاسه نکړي او همدارنګه ترجيحي چلند ورسره ونشي.
- د ميرمنو په وړاندې د تاوتريخوالي د څرنګوالي او اندازې په اړه احصايي راټولې کړي.
- د مجرمينو د پلټنو او محکمې په بهير کې د سياسي مداخلې د قضيو په اړه پلټنې وشي، او که چيرې پدې اړه څوک ګرم ثابت شي بايد مسؤل وګڼل شي.
- ډاډ ترلاسه کول چې د ميرمنو لپاره د شکايت کولو ميکانيزمونه موجود دي او هغوي کولاي شي چې په ډاډمن ډول سره خپل شکايتونه وکړي.
- ډاډ ترلاسه کول چې د شخړو په دوديز ډول هوارول د ميرمنو په وړاندې د تاوتريخوالي او تبعيض سبب نه ګرځي.
- ډاډ ترلاسه کول چې د ميرمنو د قانون په وړاندې د تاوتريخوالي له منځه وړل ځواکمن کيږي، او په پوره ډول سره تطبيقيږي. د قانون جوړنې په برخه کې ټاکلی وخت او د تطبيق لپاره يې پوره بوديجه پکښې شامل دي.

- ډاډ ترلاسه کړي چې هغه میرمنې او نجونې چې د جنسیت اړوند تاوتریخوالي قرباني کیږي، خدمتونو لکه روغتیایي پاملرنې او سرپناه ته پوره لاس رسی لري.
- ډاډ ترلاسه کړي چې قاضیان، پولیس او څارنوالان د زور زنا او د خپلې خوښې د زنا په اړه پوره لاربښوونې ترلاسه کوي، او دا چې هیڅ یوه میرمن د زور زنا (جنسي تیری) په وړاندې پدې تور چې په خپله خوښه یې زنا کړې، نه محاکمه کیږي.
- ډاډ ترلاسه کړي چې د زور زنا (جنسي تیری) د میرمنو د قانون په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو ترسیوری لاندې یو جدي جرم دی، او دا چې د نوموړي جرم په اړه د پوهاوي کچه د اړوند وزارتخانو (د کورنیو چارو وزارت، عدلې وزارت، عامې روغتیا وزارت، د لوي څارنوالی دفتر، ستره محکمه)، پارلمان، او مذهبي رهبرانو ترمنځ لوړه شوې ده.
- د قانون پلي کوونکو چارواکو لپاره روزنې د میرمنو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو د قانون د احکامو په برخه کې، ترڅو هغوي پدې وتوانیږي چې د نوموړي قانون احکام تطبیق کړي.
- پدې اړه عملي ګام پورته کول چې رسنۍ د جنسیت او جنسي تجاوز پورې اړوند مسایلو د خپرولو په مهال د میرمنو د حقونو او د هغوي د پرمختګ درناوی کوي.
- ډاډ ترلاسه کول چې ددې پوهاوي د لوړولو لپاره پوره اندازه بودیجه ځانګړې شوې ده.
- په جنسیت پورې اړوند تاوتریخوالي د پوهاوي د کچې د لوړولو په برخه کې پراخ تلویزوني او رادیويي کمپاینونه کول، ترڅو د میرمنو د حقونو او د هغوي په وړاندې د تاوتریخوالي د جرایمو په اړه د خلکو د پوهاوي کچه لوړه شي.
- د جنسي تجاوز په هکله پراخ کمپاین کول ترڅو د خلکو پوهاوی پدې اړه زیات شي او همدارنګه هغه کسان چې د جنسي تیري ښکار ګرځي باید په خپله کورنۍ، ټولنه او دولتي چارواکو ترمنځ ګرم ونه ګڼل شي.
- ډاډ ترلاسه کړي چې د ښځو د چارو وزارت او د عامې روغتیا وزارت د هغو میرمنو سره خپلې همکارۍ او هغوي ته خدمتونه وړاندې کول جاري ساتي کومې چې د جنسي تجاوز ښکار ګرځي. چې په نوموړو خدمتونو کې روغتیایي مرستې او د کورنۍ د روزل شویو مشاورینو مشورې شاملې دي.
- د شخړو د هوارولو د غیررسمي میکانیزم (جرګې او شورا) څخه مخنیوي وکړي، یعنې د دودیز قانون په مټ د جنسي تیري د جرم په اړه پریکړې کولو څخه مخنیوي کول څکه چې نوموړی میکانیزم د میرمنو د حقونو څخه سرغړونې کوي.
- د هغو میرمنو د بند څخه خلاصون کومې چې په غیرقانوني ډول سره د "کورڅخه د تیښتې" په جرم باندې محکومې شوې وي، او د هغوي د ناقانونه نیونې لپاره د هغوي څخه معذرت غوښتل.

د بشر د حقوقو د څار اداره ملي شورا څخه غواړی چې:

- د میرمنو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو قانوند د پارلمان د ښځینه غړو او د مدني ټولنو د ډلو سره د سلامشورو په مټ څواکمن او خپور کړي.
- دا ډاډ ترلاسه کړي چې په قانون جوړونې کې د یو جرم په توګه د جنسي تیري روښانه تعریف شامل دی، د زنا او جنسي تیري ترمنځ باید توپیر موجود وي.
- ډاډ ترلاسه کړي چې په قانون کې د ناموس وژنې د نورو وژنو په څیر جرم وګڼل شي او سزا ورکړي.
- ډاډ ترلاسه کړي چې د میرمنو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو قانون د بودیجې پوره میکانیزم لري ترڅو څرګنده کړي چې د قانون ټولې مادې په ټاکلي وخت کې پلې کیږي.

- د يوه احتمالي بنديز په توګه د ميرمنو په وړاندې د تاوتريخوالي د له منځه وړلو قانون سره سم د هر جرم لپاره د مرګ سزا له منځه يوسي.

د بشر د حقوقو د څار اداره نړيوال بسپنه کوونکي څخه غواړي چې:

- په ملي کچه د داسي پوليسو د لرلو اړتيا درک کړي کوم چې د جرايم په وړاندې په مبارزه باندې تمرکز کوي او د هغوي لپاره په مناسب ډول د روزنې پروګرامونه په پام کې ونيسي.
- د هغو قضيو په اړه سپيني او ځرګندې خبرې وکړي په کومو کې چې د ميرمنو د تاوتريخوالي په اړه روښانه سياسی مداخلې موجودې وي.
- د اړتيا په وخت کې د ميرمنو په وړاندې د تاوتريخوالي د له منځه وړلو د قانون د تطبيق په برخه کې تخنيکي مرستې برابرې کړي.
- د ميرمنو په وړاندې د تاوتريخوالي په اړه د عامه پوهاوي د کچې د لوړولو د کمپاينونو د ترسره کولو لپاره د بوديجې برابرول.
- د تاوتريخوالي په اړه په ځيرنه کې مرسته کول ترڅو په ستونزو باندې پوهاوي ته وده ورکړي.
- د افغاني نادولتي سازمانونو او مدني ټولنو له ډلو سره مرسته کول ترڅو د محلي ټولنو، کورنيو او مذهبي مشرانو سره د پوهاوي کچه لوړه کړي.

**د زور (اجباري) او ماشوم واده**

دبشر د حقوقو د څار اداره د افغان دولت څخه په کلکه توګه غواړي چې:

- هڅو ته دوام ورکړي چې د نويو تولد شويو ماشومانو د ثبتولو او د تيرو تولداتو ثبت پکښې ډاډمن شي.
- داسي قانون جوړ او تطبيق کړي چې د نويو ودونو ثبت او راجستر پکښې اجباري بڼه ولري. بايد دا په پام کې ونيول شي چې د راجستر کولو تصديقنامه بايد په وړيا توګه سره ورکول شي ترڅو د تصديقنامې بيعه خنډ ونه ګرځي.
- د راجستر کولو د بهير بياکتنه وکړي ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې هره ولسوالی داسي کارکوونکی لري چې وکولاي شي چې نوي زيږول شوي ماشومان، مړيني او ودونه ثبت او راجستر کړي.
- داسې ميکانيزمونه په پام کې ونيسي چې ودونو ته اجازه ورکړي چې د ودونو په صالون يا په جوماتونو کې د پوهو چارواکو يا مذهبي رهبرانو لخوا ترسره شي، چې له پخوا څخه روزل شوي وي.
- ډاډ ترلاسه کړي چې د ميرمنو په وړاندي د تاوتريخوالي د له منځه وړلو قانون کې تعديلات راځی او دا ډاډ ترلاسه کړي چې د قانون د پلي کولو ټولې ادارې د ماشوم يا زور ودونو د قضيو دپيژندلو، پلټنې او تعقيب په اړه روزنې ترلاسه کوي.
- د موجوده قانون پلي کول کوم چې د اجباري يا ماشومانو ودونه د سزا وړ ګڼي او همدارنګه د يرمنو په وړاندې د تاوتريخوالي د له منځه وړلو د نوي قانون پلي کول.
- د جزا د قانون تعديل په اړه فکر وکړي ترڅو د هغو کسانو سزاګانې پکښې شاملې شي چې د ماشوم يا زور په ودونو کې ښکېل دي، په نوموړو ښکېلو کسانو کې ځوم (که چيرې بالغ وي)، شاهدان، وکيلان، د نکاح د عقد ترونکی او داسې نور شامل دي.
- ډاډ ترلاسه کړي چې د ميرمنو په وړاندې د تاوتريخوالي قانون کې د هغو نجونو لپاره ساتنه شامله ده کومې چې د زور ودونو او په بدو کې ورکول شويو ودونو ښکار ګرځيدلي وي، ددې لپآره چې هغه

نجوني چې ددې ډول ودونو ښکار شوي وي د ودونو د عقد د ساقطولو څخه وروسته د مالي ستونزو او نورو ستونزو سره مخ نشي.

دبشر د حقوقو د څار اداره د کورنیو چارو وزارت ا ود لویې څارنوالي دفتر څخه په جدی توګه غواړی چې:

- ډاډ ترلاسه کړي چې موجود پولیس افسران او څارنوالان د اجباري ودونو په قضیو کې د پیژندنې، پلټنې او تعقیب په موضوعاتو کې روزنه ترلاسه کوي.
- ډاډ ترلاسه کړي چې د میرمنو په وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو قانون د ماشومانو ودونه جرم ګڼي، او همدارنګه ټول نوي او موجود پولیس افسران او څارنوالان د اجباري ودونو په قضیو کې د پیژندنې، پلټنې او تعقیب په موضوعاتو کې روزنه ترلاسه کوي
- ډاډ ترلاسه کړي چې ټولې میرمنې یا نجونې چې د ماشومتوب یا اجباري ودونو څخه د کور څخه د تیښتې کوښښ کوي، د ښځو د چارو وزارت ته ورمعرفي کیږي او هیڅکله د کورڅخه د تیښتې په جعلي سزا باندې نه محکومیږي.

دبشر د حقوقو د څار اداره د نړیوال بسپنه کوونکي څخه غواړی چې:

- د افغاني نادولتي سازمانونو او د مدني ټولنو له ډلو سره مرسته وکړي چې د ماشومانو یا زور ودونو په اړه د عامه پوهاوي کچه لوړه کړي.
- د ماشومانو او د زور د ودونو په اړه د پوهاوي د لوړولو د کمپاین څخه ملاتړ زیات کړي.

**عدالت ته لاس رسی**

دبشر د حقوقو د څار اداره د کورنیو چارو وزارت او لویه څارنوالي څخه غواړی چې:

- د میرمنو دحقونو، جنسیتي تبعیض او د میرمنو د تاوتریخوالی په وړاندې د لویې څارنوالی نویو ګمارل شویو مامورینو ته لازیاتي روزنې ورکړي، او د موجودو پولیس افسرانو او څارنوالانو لپاره رواني بررسې او روزنې برابرې کړي.
- ډاډ ترلاسه کول چې دمیرمنو په وړاندې ټول هغه جرایم چې راپورې یې ورکول شوی، ثبت او پلټنې یې کیږي.
- د دولت په محاکمو کې په اداري فساد او خپلولی پالنې کې کمښت راولي او ددې ډول جرایمو مسؤلین د عدالت منګولو ته راکش کړي.
- ډاډ ترلاسه کړي چې په دودیز ډول د شخړو د هوارولو میکانیزم د میرمنو په وړاندې د تاوتریخوالو او تبعیض سبب نه ګرځي.
- د ښځینه پولیس افسرانو ګمارلو ته لومړیتوب ورکول او ډاډ ترلاسه کول چې د جنډر په ریاست کې کافي اندازه ښځینه کارکوونکي شتون لري.
- د جنډر د ریاست ټولو کارکوونکو ته تخصصي روزنې ورکول
- د پوهاوي د لوړولو کار او د ټولنې سره اړیکو ته بودیجه ورکول ترڅو د جنډر د ریاست او د هغوی د دندو په اړه د خلکو د پوهاوي کچه لوړه شي.
- د جنډر ریاست ټولو شعبو ته پوره تجهیزات برابر کړي لکه ځانګړي دفترونه، تشنابونه او بېلې ودانۍ ترڅو نوموړي ریاست ته په تګ راتګ کې په میرمنو باندې د تور لګولو احتمال کم شي.

- ښځينه ګمارل شويو کارکوونکو ته اضافي روزني ورکړي ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې د هغوي د سواد لومړنی اړتياوې پوره کيږي.
- ډاډ ترلاسه کړي چې پخپله د جنډر د رياست ټولې برخې خوندي دي او ښځينه پوليس افسراني د هرډول تهديد او زورزياتي څخه په امان کې دي او د هغوي په وړاندې هرډول تهديد ته جدي پام کيږي او متجاوزين يې په ټينګه سره ترعدلي تعقيب لاندې نيول کيږي.
- د جنډر د رياست کارونه ترنظارت تفتيش لاندې نيسي ترڅو د هرډول احتمالي سوء استفادې مخنيوي وکړي.
- ډاډ ترلاسه کړي چې د هغو ميرمنو هرډول طبي معاينات يوازې د مجربو ښځينه ډاکټرانو لخوا ترسره کيږي کومې چې د تاوتريخوالي يا جنسي تجاوز ښکار ګرځيدلي وي.

دبشر د حقوقو د څار اداره ستره محکمی څخه غواړی چې:

- نويو او موجودو قاضيانو ته د ميرمنو د حقونو، جنسيتي تبعيض او د ميرمنو او نجونو په وړاندې د تاوتريخوالي په اړه روزني ورکړي.
- ټول قاضيان د زنا او جنسي تجاوز په توپير باندې پوې کړي.
- ډاډ ترلاسه کړي چې ټول قاضيان پدې پوهيږي چې جنسي تيری جرم پيژندل شوی او هغه نجوني او ميرمني چې د جنسي تيري ښکار ګرځي بايد سزا ونه ويني.
- ټولو قاضيانو ته قانون روښانه کړي چې هغه ميرمني او نجوني چې د کورڅخه تيښته کوي، بايد پدغه عمل باندې هيڅکله د مجرمينو په توګه محکومې نشي.
- هغو خنډونو ته بياکتنه وکړي کوم چې ميرمنو ته عدالت ته د رسيدو په لاره کې پراته دي، لکه د شاهدانو اشد ضروت.

دبشر د حقوقو د څار اداره د نړيوال بسپنه کوونکي څخه غواړی چې:

- د محاکمو د سيستم په ځواکمنولو کې اوږدمهالي ملاتړ ته لومړيتوب ورکړي، د ميرمنو لاس رسي ته پکښې ځانګړی پام وکړي.
- ډاډ ترلاسه کړي چې ټول هغه پروګرامونه چې په دوديز ډول د شخړو د هوارولو د ميکانيزم سره کار کوي، د ميرمنو په وړاندې په تاوتريخوالي او نورو خرابو رسومو په له منځه وړلو کې مرسته کوي لکه په بدو کې د نجونو ورکول.
- په چټکی سره د جنډر د رياست د کارکوونکو په روزني کې کمښتونه پوره کړي او د جنډر د هرې اداره لپاره روزونکي برابر کړي.
- د هغو مجالسو ځواکمنول کوم چې د پوليسو په روزنيزو پروګرامونو کې د جنسيت او د ميرمنو د حقونو په اړه ترسره کيږي.
- د حقوقي مرستو د مراجعې د مراکزو سره اوږمهالي مرستي کول او د نورو ډيرو ميرمنو روزل ترڅو هغوي وکولاي شي چې د متخصصو ميرمنو کارکوونکو لخوا د کارکوونکو په توګه وپيژندل شي.

**د نجونو د ثانوي ښوونځيو زده کړې**

دبشر د حقوقو د څار اداره د افغان دولت څخه غواړي چې:

- د هغو نجونو د پاتې کېدو په استراتيژۍ باندې کار وکړي کومې چې په لومړنيو ښوونځيو کې شاملې دي، ترڅو هغوي خپلو زده کړو ته ادامه ورکړي.
  - پدې اړه معلومات راټولول چې ولې زده کوونکي ښوونځي کې په شامليدو کې پاتې راځي او يا د ښوونځي څخه خارجيږي او بيا نوموړی معلومات د جنډر د حساسيت او د پاتې کېدو (ابقاء) په استراتيژۍ کې وکاروي.
  - بايد د نجونو د ثانوي ښوونځيو په جغرافيايي پوښښ کې ډيروالی راولي، د هلکانو ځينې ښوونځي د نجونو سره په ګډو ښوونځيو واړوي، د سهار او ماسپښين دورې جوړې کړي او موجودو لومړنيو ښوونځيو ته د ثانوي ښوونځيو ټولګي ورزيات کړي او کله چې ښوونځيو د ودانولو پريکړه کوي بايد ميرمنې او نجونې د ښوونځي لپاره د ځاي د ټاکلو په پريکړه کې ورګډ کړي. د ښځينه زده کوونکو د ټرانسپورت لپاره بوديجه ځانګړې کړي.
  - په هره سيمه کې د نويو ښوونځيو جوړول بايد د نجونو په برابر لاس رسي سره مشروط کړي.
- هڅو ته دوام ورکړي ترڅو په ټولنو کې موجود ښوونځيو ته رسمي بڼه ورکړي او راجستر يې کړي، او هغو زده کوونکو لپاره رسمي تعليمي اعتبار ترلاسه کړي کومو چې د همدغو پروګرامونو له لياري زده کړې کړي دي، او رسمي سيستم ته د هغوي په اړولو کې هرډول خنډ له منځ يوسي، او ډاډ ترلاسه کړي چې د نجونو هرډول لاسته راوړنې په نوموړو تعليمي مرکزونو کې بايد ددولت لخوا خوندي پاتې شي.
  - د نجونو او هلکانو او د ګډو زده کړو موقيعت او وضعيت څخه نظارت وکړي ددې لپاره چې پراخ پوښښ او د نجونو او هلکان د برابر لاس رسي لپاره په استراتيژيک ډول پلان جوړ شي.
- هغو جغرافيايي سيمو ته په کار کولو کې لومړيتوب ورکړي چيرې چې د نجونو د ونډه کچه په زده کړو کې ټيټه وي.
  - ډاډ ترلاسه کړي چې پوره شمير ښځينه ښوونکي ګمارل شوي دي او د هغوي لپاره روزنې په پام کې نيول شوي دي، په ځانګړي ډول د هغو لپاره چې په کليوالو سيمو کې دي.

دبشر د حقوقو د څار اداره د کورنيو چارو وزارت، د ملي دفاع وزارت، د ملي امنيت رياست او د لويې څارنوالی دفتر څخه غواړی چې:

- د تعليمي ودانيو او کارکوونکو ساتنې ته لومړيتوب ورکړي.
- په ښوونځيو، ښوونکو او زده کونکو باندې د ټولو حملو پلټنې وکړي او ډاډ ترلاسه کړي چې ددغو حملو مرتکبين مسؤل ګڼل کيږي.
- د محلي ټولنو سره کار وکړي ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې د ښوونځيو په ساتنه کې ملاتړ کوي او ددولت د هغې ژمنې څخه خبر دي چې د نجونو په ښوونځيو باندې د حملو څخه مخنيوي کوي.

دبشر د حقوقو د څار اداره د طالبانو، حزب اسلامي او نورې وسلوالې ډلې څخه غواړی چې:

- بې له ځنډه خپلې حملې په ملکي خلکو او ملکي اجناسو باندې ودروي چې ښوونکي، زده کوونکي او د هغوي ښوونځي پکښې شامل دي.
  - د ښوونکو او زده کوونکو په وړاندې خپل ټول تهديدونه اودروي لکه د شپې لخوا د ليکونو تيتول.
  - په عامه توګه سره ددې ډول حملو او تهديدونو د پای ته رسولو اعلان وکړي.

دبشر د حقوقو د څار اداره نړیوال بسپنه کوونکي څخه غواړی چې:

- د نجونود ثانوي ښوونځیو د ودانولو په برخه کي په خپل ملاتړ کي زیاتوالی راولي.
- د میرمنو لپاره په کلیوالو سیمو کي د دارالمعلمینو په جوړولو کي خپل ملاتړ زیات کړي.
- په هغو سیمو کي پروګرامونو ته لومړیتوب ورکول چېږي چې د نجونو د شاملیدو او وندې کچه ټیټه وي.
- د ټولني د شخصي ټرانسپورت ملاتړ وکړي، او په زده کړې کي دنجونو لاس رسي ته لومړیتوب ورکړي.
- د ښوونځیو د احاطوي دیوالونو، ودانیو او د نجونو د تشنابونو په جوړولو کي ملاتړ او همکاري وکړي ددې لپاره چې ټولنې باوري شي او وهڅول شي چې نجونې یې خوندي دي.